# کتابتونونه

فنلینډ کې هره ښاروالي (میونسپلټي) یو عامه کتابون لري.
کتابتون د لیدو کتو او کلتوري چارو مرکز وي.
کتابتون د ماشومانو، ځوانانو، پېغلو، ښځو او سړیو لپاره دی.
په کتابتون کې تاسې لوست کولای شئ، وخت تېرولای شئ، ملګرو سره ملاوېدای شئ، او غونډو کې ګډون کولای شئ.
د کتابتون کار کوونکي به تاسې سره مرسته وکړي، د ستاسې پوښتنې به ځواب کړي او تاسې ته به د کتابتون وسایل ورانديې کړي.

کتابتون د ټولو اوسېدونکو لپاره وړیا دی.
په کتابتون کې تاسې کولای شئ چې

- کتابونه، مجلې، میوزک او وېډیوګانې په پور ویسئ
- د کتابتون کمپوټرې او نور الیکټرانیک اوزار استعمالای کړئ.
- د کتابتونو کلبونو، تقریبونو او کورسونو کې برخه واخلئ.
- هلته له کارکوونکو مرسته وغواړئ.
- د کتابتون اسانتیاوې، لکه د لوست کوټې، وکاروئ.

نور معلومات له کتابتونونو او د هغوی په وېب پاڼو کې ترلاسه کېدای شي.

د کتابتون ټول خدمتونه او تقریبونه وړیا وي.

د موادو د پور کولو لپاره به تاسې ته د کتابتون یو قبول وړ کارډ پکار وي.
نور خدمتونه د کتابتون د کارډ بغیر ترلاسه کېدای شي.

## تاسې کولای شئ چې د کتابتون په لارو چارو کې برخه هم واخلئ

کتابتون د ماشومانو، ځوانانو او لویانو لپاره تقریبونه جوړوي.

د تصوراتي کیسو په ګړۍ کې ماشومان تصوراتي کیسې او ننداري اوري.

## ادبي ماښامونه،

ادبي ماښامونه، لیکوالانو غونډې، میوزیکي ټماشې، او درسونه په کتابتون کې جوړېږي.
د کتابتون لخوا تنظیم شوي پروګرامونه وړیا وي.

ډېر کتابتونونه د ننداړو مرکزونه لري چې نیول (بوک) کېدای شي.
د ننداړو او تقریبونو په اړه معلومات له کتابتونونو او د هغوی وېب پاڼو څخه ترلاسه کېدای شي.
تاسې هم کولای شئ چې په کتابتون کې کوم مجلس جوړ کړئ.

تاسې کولای شئ چې خپل بریښنالیکونه(ایمېلونه)، پر انټرنټ معلومات ولولئ او د پرنټ کولو لپاره د لایبرېري پرنټر استعمال کړئ.
په ځینو ښاروالیو کې پرنټ کولو لپاره پیسې اخیستل کېږي.
په ټولو کمپیوټرو کې د الفاظو د لیکلو لپاره سافټ وېرونه او نور اوزارونه نصب کړای شوي وي.
په ځینو کتابتونونو کې سکېنرې او د بېلا بېلو ژبو لیکدړې موجودې وي.

تاسې د کتابتون استانتیاوې کاروالای شئ.
ټول کتابتونونه میزونه او چوکۍ لري چې تاسې په وړیا توګه کار او خوند لپاره کاروالای شئ.
ډېر کتابتونونه د کوټو د بوک کولو، لکه یوې غونډې لپاره، اسانتیا هم ورکوي.
ځینې کتابتونونه د میوزک د غږولو لپاره اوزار، لکه پیانو، هم لري.

## بریښنایی کتابونه(اي بوکس) څه ته وایي؟

ای- کتابونه عام کتابونه وي چې تاسې یې په کمپوټر یا ځیرک ټیلیفون کې لوستلی شئ.
اي کتابونو ته بریښنایی کتابونه هم وایي.
ای کتابونه غیر تخیلي یا تخیلي لکه ناولې، د کیسو کتابونه یا د شاعرۍ کتابونه کېدای شي.

له کتابون څخه د اي کتابونو د پور کولو طریقه هم هغه د چاپ کتابونو د طریقې په شان ده.

## د کتابتون ای کتابونه څنګه کارول کېږي؟

د پورولو لپاره باید تاسې سره د کتابتون کارډ او پن کوډ
(د ستاسې د شخصي پېژندنې شمېره) وي.

اي کتابونه په اسانه په مستقیمه توګه د انټرنټ په براوزر
کې لوستل کېدای شي.
نو په داسې حال کې به د دې کتابونو لوستلو لپاره تاسې ته د نورو پروګرامونو
د ډاونلوډ کولو کومه اړتیا نه وي.
که تاسې غواړئ چې په خپل کمپوټر یا فون کې کتاب ولولئ،
باید هغه انټرنټ سره نښل شوی (کنیکټ) وي.

تاسې ته د ای کتاب د بېرته ورکولو اړتیا نه وي. چې یو ځل د پور وخت پوره شي
نو هغه په آټومېټیک توګه بېرته کتابتون ته واپس کېږي.

## د استعمال قاعدې

ټول کتابتونونه د استعمال خپلې خپلې قاعدې لري.
په قاعدو کې په ځانګړې توګه د کتابتون د کاروونکي حقوق
او مکلفیتونه لیکل شوې وي،
لکه، په یو وخت کې څومره څیزونه پور کېدای شي او کله
باید پور شوي څیزونه بېرته ورکړل شي.
که قاعدو باندې عمل وه نه شي، ګټه
اخیستونکی کېدې شي د څیزونو پور کولو حقوق له لاسه ورکړي.

## کتابتون خپل خدمتونه تاسې ته زیات نږدې هم راولي

موبایل کتابتون یو بس وي چې له کتابونو او نورو موادو ډک وي.
که تاسې له کتابتون لرې اوسېږئ، کېدې شي د ستاسې کور سره نږدې د موبایل
کتابتون د بس تمځای وي.
موبایل کتابتون د خپلو تمځایونو ته د رسېدو لپاره یو مهالوېش لري.

## تاسې کولای شئ چې له کتابون د بېلا بېلو ژبو کتابونه وغواړئ

تاسې کولای شئ چې له کتابتون په خپله ژبه کې کتابونه وغواړئ.
کتابونه له څو ژبېز کتابونه (ملټي لنګول کتابتون) غوښتل کېدای شي.
تاسې کولای شئ چې له خپل ځایي کتابتون یې ترلاسه کړئ.

که تاسې لوست نشئ کولای نو تاسې د کتابتون څخه د غږیز
کتابونو فرمایش کولای شئ.

د ستاسې په ځایي کتابتون کې کارکوونکي کولای شي چې
په www.viittomakielinenkirjasto.fi کې د نغوتژبې (ساین لینګویج)
د کتابتون کارولو څرنګوالي په اړه تاسې ته مشوره درکړي.

## موږ تاسې ته د کتابتون د لیدو لپاره هرکلی وایو!

KIRJASTO · BIBLIOTEK · LIBRARY